بسم الله الرحمن الرحيم

# د خلکو د چارو سرپرستي د دولت مسوولیت دی؛ نه دې سازمانونو!

## (ژباړه)

### خبر

د سوډان لومړي وزیر عبدالله حمدوک د کار په اړه د دولت ژمنې له ټولو سازمانونو سره په یوه لایحه کې منظور کړي دي. د دې لایحې له مخې به له کډوالو سره مرستې وشي. دا راپور هغه وخت خپور شو، چې نوموړي د سویس د بې پولې ډاکټرانو له عمومي مدیر، استیفان کورنیش سره په خپل کاري دفتر کې لیدنه کوله. دغه راز د حمدوک اقتصادي مشاور، دوکتور ادم الحریک هم په دې لیدنه کې ګډون درلود.

### تبصره

دولتي کاري سازمانونه په نړیواله کچه خپلواک نه دي، په نورو دولتونو پورې تړلي دي. دا سازمانونه د پانګوال نظام سیاسي او مالي ملاتړ له ځانه سره لري؛ چې په سر کې یې استعماري دولتونه دي. دغه دولتونه له سازمانونو استفاده کوي او فعالیت یې د خپلو ګټو په محور کې تنظیموي.

په پانګوال نظام کې، چې پر نړۍ یې سیوری غوړولی دا ډول کړنې د حیرانتیا وړ نه دي. سوډان هم د خلکو له چارو خپله اوږه سپکوي او جنایت کارو سازمانونو ته د فعالیت جواز ورکوي، څو هغوی د خلکو چارې سرپرستي کړي. پانګوال نظام هېڅکله د خلکو چارو ته ارزښت نه ورکوي او په تجارتي اموالو درانه مالیات وضع کوي؛ څو د خلکو ژوند تنګ او په دوزخ بدل کړي.

په سوډان کې د سوداګریزو او ورځنیو اړینو توکو، نرخ تر وروستي حده لوړ شوی دی. اسلام د خلکو د چارو سرپرستي او د ښه ژوند د امکاناتو برابرول، د حاکم مسوولیت ګڼلی دی. له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

***ژباړه****: تاسو ټول د شپانه په څېر یاست او له خپل رعیت څخه پوښتل کېږئ، امیر؛ چې رعیت ور دې غاړې دی، له خپل رعیت څخه به پوښتل کېږي.*

د خلکو د چارو سرپرستي د خلیفه مسوولیت دی؛ پرته له دې چې په خپل رعیت احسان وکړي. که خلیفه د خلکو په چارو کې ټنبلي وکړي، امت ورسره محاسبه کوي. رسول الله صلی علیه وسلم هم د حکامو محاسبه تشویق کړې ده او څوک چې دا چاره ترسره کوي د هغو مقام یې له ټولو لوړ بللی دی.

ابي سیعد خدری رضی الله عنه ویلي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»**

***ژباړه:*** *غوره جهاد د ظالم پاچا پر وړاندې د حق خبره ده.*

کله چې مسلمانان پوه شول، چې د خلیفه اساسي دنده د خپلو مسوولیتونو ادا کول دي، هغه حقونه یې ترې وغوښتل، چې الله سبحانه وتعالی خلیفه ته ورسپارلي وو. یوه ورځ یو اعرابي، عمر رضی الله عنه ته راغی او پوښتنه یې ترې وکړ: ای عمره! ته خیر خوښوونکی یې، زما لونو او مور ته یې یو څه ورکړه او زموږ سپر وګرځه! په الله قسم باید همداسې وکړې! عمر رضی الله عنه وفرمایل: اې اعرابي! که داسې و نه کړم؟ اعرابي وویل: بیا به زه له دې ځایه لاړ شم. عمر رضی الله عنه وفرمایل: که لاړ شې څه به وشي؟ اعرابي بیا وویل: په الله قسم! کوم څه چې ورکړل شي او منت پرې وشي، پوښتنه به یې کیږي او زما په اړه به له تا څخه پوښتنه وشي او بیا به یا جنت یا دوزخ ته لاړ شې. عمر رضی الله عنه د دې خبرې په اورېدو سره، وژړل او خپل کالي یې اعرابي ته ورکړل او ورته ویې ویل: په الله قسم! چې پرته له دې نور څه نه لرم!

هو! دا د اسلامي دولت حکام وو، چې خپل مسوولیت یې د خلکو په اړه منلی و. د دې دولت د بسنټ ډېره نبي کریم صلی الله علیه وسلم کېښوده. د خلکو د چارو د سرپرستی په اړه مخکې ښه مثال وړاندې شو؛ کله چې سیدنا عمر رضی الله عنه ته مسوولیت ورسپارل کېږي، وایي: په الله قسم! که د یوه حیوان پښه په عراق کې ماته شي، الله سبحانه وتعالی به له ما پوښته وکړي، چې ولې دې لاره ورته جوړه نه کړه!

**لیکوال: استاد عبد الخالق عبدون علي**

**د حزب التحریر ولایه سوډان- مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: الهام پردېس**